## د تړون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

**موضوع:** د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د ستوریج سیستم چمتو او تدارک کولو پروژې تړون د مایکرو سیستمس د معلوماتي تکنالوژۍ او ارتباطي خدماتو شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د ملي تدارکاتو ریاست د (20580) شمېرې او 1447/12/27 نېټې د متحدالمال د دویمې مادې د (6) بند پر بنسټ ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري څو د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د ستوریج سیستم چمتو او تدارک کولو پروژې تړون د مایکرو سیستمس د معلوماتي تکنالوژۍ او ارتباطي خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 35207 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه یې د کابل ولایت، د تایمنیو دویم سړک کې دی د تړون ټولیزه بیه 3,233,994 درې میلیونه دوه سوه درې دېرش زره نهه سوه او څلور نوي افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر پنځو (۵) کاري ورځو پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، تړون به نه عقد کېږي.